مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال
۲۰۲۱/۱۲/۳۱

# نوی کال

هر کال چې نوی کیږی، زیږوی غمونه نوي
په خـوارو انسـانانو، خـوروي مـرگـونه نوی

کیسـه مې اوریـدلي، د یـومُ الْبـدتـر پخـوا وه
راځي چې هره شپه، نوجوړوی رنځونه نوي

واړه واړه دردونه، پیـداکـیږی هـر بـدن کی
که پاتی بی علاج شی، رسوي دردونه نوي

یـو بـل ته ورکـوو، مُبــارکـۍ د نـوي کال
هرنوی کال هرکال راته، راوړی زخمونه نوي

دا تیرځلوییشت کلونه، مې په یاد دي نه دي هیر
هرکال ښخ کړی ډیر، په هـدیرو سرونه نوي

سـږ کال مُبـارکی، درته نه وایـم کـلـیوالـو
کیدای شي په دی ختم شي، د غم کلونه نوي.

په همدی هـیله.

دسمبر/۲۸/۲۰۲۱
تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ